وسلې ته په مخه ښه (ناول)

لیکوال
ارنسټ هیمنګوې

ژباړه او خلاصه
صفیه حلیم

مارچ ۲۰۱۱ م

اوړې په وتلو و او زه د یوې ډلې سره د اطالوي پوځ د روغتیاي خدمتونو لپاره په یو کلي کی میشت وم. د دی کلي چاپیره ښکلې ونې او بوټې، د انګورو طاقونه او شین اسمان راته د جنت د یوې وړی برخې په شان و.
ما له غونډۍ کتل چې ښکته د پوځیانو لارۍ رواني وې او دوړې یې بادولې. کله کله می د توپو ډزې هم اوریدې. په موټرسیکل سپاره پوځیان په تادۍ ووتل او کله کله د یو پوځي جنرال یا کوماندان موټر به په بیړه تیرشو نو ټولو به ورته لاره خوشې کړه.
مونږ بی شمیره ټپیان د سیمې روغتون ته رسولي وو او هیله مو درلوده چې د ژمي په راتلو به د جنګ لمنه راټوله شي او زموږ کار به سپک شي. ولې داسی ونشول او د ژمي نه وړاندې هلته د کولرا وبا خپره شوه. مونږ هره ورځ په دی وبا اخته کسان روغتون ته وړل. د واورې ورښت پیل شو نو د پوځ د بري خبر مو تر لاسه کړو چې مخامخ غونډۍ نه وراخوا سیمه یې نیولې وه. اوس جنګ د یوې بلې غونډۍ د نیولو لپاره کیدو.
مونږ ته یې له سینډ پورۍ په یوی ښاریې کی د ایساریدو امر وکړو چې بازار او روغتون یې لرل. د غونډۍ د پاسه هغه شین ځنګل چې ما له بلې غاړې لیدو، سوځېدلې او تش د ونو نسواري تنې ښکاریدې. ځینې ځایونه سم پاتې و خو نورپه بمبارۍ په کنډوالو اوختي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا په سختو واوروکی اوزګار شو او ټوله ورځ به دننه ناست و. د شرابو په څښلو مو ځان ګرموو. یوه ورځ مو بنډار تود و چې ما د خپلې ډلې ځوان اطالوي پادري نه د ده د هیواد د نورو سیمو په اړه وپوښتل. زمونږ د ډلې مشر تورن راته وویل، اوس ته اوزګار یې او کولې شې چې روم، نیپلز او سسلي ته ولاړ شې.
پادري. زما مور پلارپه ابروزي کی ژوند کوي،هلته که ولاړې نو تا به د خپلو زامنو په شان ووساتي.
جګړن. (په خندا) پام کوه ابروزي کی له دی ځای نه زیاتې واورې کېږي. پادري صیب، پرېږده چې د اطالیې تاریخي ښارونو سېل وکړي.
تورن. یو څه اطالوي ژبه هم زده کول پکار دي چې ځان پری پوهه کړې.
جګړن. ته بایدرخصت واخلې او تفریح وکړې.
تورن. زه به درسره ولاړ شم او ټول ځایونه به درښکاره کړم.
جګړن. بیرته به ځان سره عکسونه راوړی.
پادري. ته ابروزي ته ولاړ شه، هلته ساړه ډېر دي خواسمان یې شین وي. زما مور پلار سره به پاتې شی. پلار مې ډېر لوې ښکاري دې ، ښکار ته به دی بوځي.
زه ولاړم او چې د سیل نه وروسته بیرته راغلم نو هلته زیات شمیر توپې مې ولیدې. یو څو نور روغتونونه هم جوړ شوي و او د بریطانیې اوسیدونکي پکی ډېرښکارېدل. واوره اوس ویلې شوې او ځاې ځاې شنه راټوکیدلي و.
دروازه پرانستې وه او یو پوځي په بنچ پیتاوي ته ناست و. څنګ ته په دروازه یو ایمبولانس ولاړ و او زه چې دروازې کی وردننه شوم نو هلته هم هغه د مرمرو د فرش او د روغتون بوي خپور و. زمونږ د میشت ځاې هم هغسي و،څنګه چې مې پریښې و. توپیر یې د سپرلي د موسم و.
جګړن پخپل میز ناست و او کاغذونو ته یې کتل. زه یې نه وم لیدلي او ما شیبه سوچ وکړو چې دننه ورشم او که بره خپلې کوټې ته ولاړ شم او ځان صفا کړم. بیا می فیصله وکړه چې بره به ورشم .
هغه کوټه چې زه او رینالډي پکی میشت و، هم هغسي وه. زما په لیدو یې رانه پوښتنې وکړې چې کومو ځایونو ته ولاړم. هغه ته مې نومونه یاد کړل، میلان، فلورنس، روم، نیپلز.او بیا مې وپوښتل چې دوي ژمې څنګه تیر کړو. راته یې د واورو، ساړو، زیري، نمونیه، او د پښو لاسونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنګل وهلو حال راکړو. دا يې هم وويل چې راتلونکې اونۍ به بيا جنګ پيل شي او پوښتنه يې رانه وکړه چې دی سږ کال واده وکړي که نه؟ ما ورته وويل، په واده کی ځنډ مه کوه. بيا ده رانه يو څه پيسې وغوښتې نو ما ورله پنځوس "ليرې" ورکړی.

په هغه شپه مونږ په لنګرخانه کی ناست و او ما ټولو ته د خپل سفر کيسې کولې. پادري يو څه مرور ښکاريدو چې زه ابروزي ښار ته ولې نه وم تللې. ده خپل پلار ته ليک هم استولې و او هغوي راته تياري کړی وه خو زه نه پوهيږم چې ولې ولانړم. ده ته مې د قناعت ورکولو هڅه وکړه او ورته مې وويل چې بس ونشوه. اخر دې قانع شو چې کله کله هغه څه چې مونږ يې غواړو نه کيږي.

په بل سهار زه د هغو توپو په ډزو راويښ شوم چې زمونږ کور شا ته په مورچو کې ايښې و. له کړکۍ مې وليدل چې پوځې لارۍ په سړک روانی وی. ژر ژر مې جامې بدلې کړې، پخلنځې کی مې کافي وڅښله او ګراج ته ولاړم. ګراج يو لوی ځيږ و چې د ټين چت يې لرلو او ورلاندې لس ايمبولانس ګاډي به په قطار ولاړ و. په دی کی به مونږ زخميان له محازونو راوړل. د يو ګاډي کولمې بهر پرتې وې او څو کسان يې په جوړولو لګيا و. وروسته زه دغونډۍ د پاڅه جوړ سنګر ته ولاړم. مونږ چې د کومې فرقې سره کار کوو، هغې د يوی لوی حملې پلان جوړ کړی و. دوي به د سيند د لاری تنګې درې نه پورې وتل، هلته له مورچې نيولو وروسته به يې جنګ کوو.

زه چې بيرته خپلې کوټې ته ولاړم نو رينالډي ځان جوړ کړی تيار ناست و. ما هم مخ لاسونه ووينځل او دواړه د ښار مرکز ته ولاړو. د ريناالډي يوه نرسه کاترين خوښه شوی وه چې د بريطانوي روغتون کی يې ليدلې وه. دا روغتون لنډ وخت کی په يوی ماڼۍ کی جوړ شوې و. د ونو نه وراخوا د روغتون په باغ کی مې د دوو نرسانو سپينې جامې په نظر راغلې. يوه پکی کاترين وه او مونږ دواړو دوي ته پوځې سلوټ وکړو. هغه بله نرسه "هيلن فرګيسن" نوميده. کاترين په لاس کی يو ښکلې متروکه نيولې وه چې د څرمنې لاستی يې لرلو. راته يې وويل چې يو ټيپې بيګا شپه په روغتون کی مړشوی و او د ده مور ورته دا نښه را استولې وه.

ما تر ډيره وخته د کاترين سره په انګريزي ژبې خبری کولې او کله کله مې ريناالډي ته په اطالوي کی ژباړلې. بيرته په لاره راته ريناالډي وويل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین تا خوښوي او زه به ترې لاس واخلم. ما وخاندل خو په بل ماسپښین مې هم هغه روغتون کې د ایمبولنس وړلو وروسته د یوې نرسی نه د کاترین پوښتنه وکړه. دی راته وویل، ښه ښه ته هغه امریکاي یې چې د اطالوي پوځ سره کار کوی؟ بیا یې وویل، ولې دې مونږ سره کار نه کوو؟ ما ورته وویل، زه د جنګ پر وخت اطالیې کې وم او بله دا چې د دوي ژبه مې زده ده.
محاز ته په بله پیره کې زمونږ د ایمبولانس مخ ته بم پریوتو نو مونږ ودرېدو. یو بم د سړک په منځ کې خاورې باد کړي. څو شیبې وروسته ډزې بندی شوې نو مونږ روان شو او ما خپل استوګنځي ته مخه کړه. له دوډۍ وروسته بیا د بریطانیې روغتون ته ولاړم او د کاترین سره مې ولیدل. دا په اصل کې د سکاټ لینډ اوسیدونکی وه. راته یې وویل چې د دی کار له نورو نرسانو توپیر لري او د جنګ خبری یې کولې.
ما ورته وویل راځه د جنګ خبرې به نه کوو. په تیاره کې ما د دی مخ د سپوږمۍ په رڼا کې لیدو او ډېره ښکلې راته ښکاره شوه. په ځان مې اختیار نه شواو د دی د ښکلولو هڅه مې وکړه. دی راته په مخ یوه داسی کلکه څپېړه راخلاصه کړه چې پوزه یې راله خوږ کړه او په سترګو کې مې له درد نه اوښکی راغلې. کاترین رانه بخښنه وغوښته او وې ویل، زه نه غواړم د نورو نرسانو په شان ووسم، خوږ مې کړې؟ ما ورته وویل، هیڅ خبره نه ده. تا ډېر سم کار وکړو. خو په زړه کې ورته په قهر ووم. هغې وخاندل خو بیا غلې شوه او زه پوه نشوم چې څه وخت یې په سترګو کې اوښکې راغلې. په ژړغوني غږ یې وویل، ته به ما سره سم چلن کوې.
ځکه زمونږ ژوند ډېر عجیبه دی. څو شیبې وروسته زه د هغې سره د روغتون تر دروازې ولاړم او هلته دی راته په مخه ښه وویل.
راتلونکی دوه ورځې زه په کار بوخت وم. هوا ګرمه وه خو مونږ ته یې ویلي و چې په ښارکی هم د اوسپنې خولۍ به په سروو. زما به دومره ګرمي وشوه چې خولۍ به مې په لاس کې ګرځوله. د ګېسو (غاز) نه د ژغورنې ماسکونه یې هم راکړي و او هر چا ته امر شوی و چې یوه تماچه (طفنچه) به له ځانه سره ساتئ، ان چې ډاکټرانو ته یې هم دا تماچې ورکړې وی. که چا دا امر نه منلو نو وبه نیول شو.
رینالډي د تماچې په پوښ کې ښه ډېرد تشناب کاغذ ایښي و. ما یو څو ورځې د خپلې تماچې د کارولو لپاره پرې نښې ویشتلې. خو د ډز پر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې شپيلۍ دومره خوځيده چې نښه به خطا شوه. د څو ورځو د تمرين نه وروسته مې يوه لاره وموندله چې په شل ګامه کې به څنګه د نښې منځ ويشتل کېږي. خو د دې په ګرځولو ما د شرم احساس کوو، په تيره بيا د انګريزانو مخ ته چې هلته هيڅا وسله نه ګرځوله.
په بل ماښام د کاترين ليدو ته ورغلم. ورته مې وويل چې زه محاز ته تللې ووم. هغې ګيله وکړه چې ولې مې ورته خبر ورنکړو. ما ورله ډاډ ورکړو چې دا دې اوس بيرته راغلم او لوز مې ورسره ورکړو چې زه به تل د دې ليدو لپاره بيرته راځم. خو زه په زړه کې پوهېدم چې د کاترين سره مينه نه لرم او لکه چې د قطعو ( تاش) د لوبې پر وخت څوک د نورو سره بې مانا خبرې کوي، هم هغسې د دې ليدل راته يوه بې مانا لوبه ښکارېده.
مونږ په هم هغه باغ کې ګرځېدو او دې ته مې وويل چې رازه يوځاې کښينو. د ډېرې په يو بنچ کښيناستو نو ما د هغې لاس ونيولو. دې رانه لاس راښکلو، سترګې يې ښکته کړې او وې ويل، دا يوه لوبه ده چې مونږه يې کوو. ما ورته وويل، کومه لوبه؟ دې وويل، دومره ساده هم نه يې چې زما په خبره پوه نه شې. خو ته ښه سړې يې او دا لوبه په ښه توګه کوې. خو بيا هم لوبه لوبه وي.
ماترې پوښتنه وکړه، ته تل د چا د زړه په خبره پوهيږې؟ دې وويل، د نورو خو نه پوهيږم خو ستا د زړه خبره اورم. ته له نورو توپيرلرې خو راځه ژمنه وکړو چې که اړتيا نه وي نو يو بل ته به دروغ نه وايو. ما د دې نوم واخستو، کاترين ، نو دې وويل، ته زما نوم هم د نورو په شان نشې تلفظ کولې. بيا کاترين راته وويل، چې زه د هغې خوښېدم خو ضرور نه وه چې ما ورته د خوښي احساس لرلې وې. دا پاسيده او ما سره يې په مخه ښه وويل، د روغتون لوې دروازې کې ورددننه شوه او زه هم هلته په بنچ ناست پاتې شوم.
د "ګوريزيا" ښار له محاز يو ميل ليرې و اوپکې د ټپيانو او ناروغو د روغتون ته د وړلو کار هم زيات شوی و. يوه ورځ په محاز يو پوځي چې پښه يې ټپي وه، راته راغلو او وې ويل چې ما پخپل ايمبولنس کې روغتون ته بوځه. ما ورته وويل، ستا فرقه جلا ده او مونږ اجازه نه لرو څکه ستا کاغذونه به د نورو سره وي. د ده له خبروايسيده چې امريکاي و. ما چې د ده ټپونه وليدل نو پوه شوم چې ځان يې پخپله ژوبل کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته يې زارۍ کولې چې له هغه ځاې يې وباسم ځکه ده د خپلی فرقې روغتون ته تلل نه غوښتل. هلته به ډاکټر ورباندی پوهه شي او بيرته به يې محاز ته ورواستوي. ده جنګ نه غوښتو او په دی پلمه يې ځان د هغې جنګي محاز نه ويستلو. ما په ايمبولانس کی کښينولو او په لاره يو خوشی ځاې کی مې ښکته کړو. ورته مې وويل، خپل سر د څه شي سره وجنګوه او دلته پريوزه. زه به دی په بله پيره کی اوچت کړم.
ما چې ټپيان روغتون ته ورسول نوخپل تش ايمبولانس مې بيرته هغه ځاې ته ورسووچې دی مې پريښې و. له ليرې مې وليدل چې يو بل ګاډی د هغه امريکاي سره ولاړ و او دی يې په تسکره اچولو. د ده په سر د اوسپنې خولۍ نه وه او وينې تری روانې وې. زما په ليدو يې چيغه کړه چې وګوره دا زما سر، دوي مې خپل روغتون ته بياي.
د مائيګر پينځه بجې زه ستړی ستومانه، له خولو لوند او په خاورو پټ خپل ميشت ځاي ته راغلم. په ګراج کی چې کوم ځاې يې زمونږ ګاډي وينځل، ولاړم او ځان مې په اوبو ووينځلو. بيا خپلې کوټې کی مې راپور وليکلوچې خپل هيواد ته يې ورواستوم. خو ما سره د ليکلو لپاره څه نه و. کله کله به مې يو دوه پوسټ کارډونه چې ورباندې د اروپاي ملکونو انځورونه جوړ و، د يوې جملې سره ورليږل، چې هر څه سم دي.
زما د خپلوانو لپاره دا بس وچې زما د ژوندي کيدو نښه يې ترلاسه کوله. اوس دلته دومره ګرمي وه چې مونږ به پخپلو کوټو کی جامې نه اغوستې او د واورې غوښتنه مو کوله. کله چې اردلي راته سړی اوبه او واوره کوټې ته راوړل نو له دننه به مو ورته په چيغه وويل چې دا له دروازې سره کيږده ځکه لڅ به ناست و. بيا چې دی به ولاړو نو دروازه به مو خلاصه کړه او بالټې به مو پخپله راواخستو.
د ډوډۍ پر وخت به مونږ يو بل ته د خپلو خپلو جنګونو حال ويلو.
يو ماښام د کاترين ليدو ته ولاړم نو هيلن لوې دروازې ته راغله او راته يې وويل، چې کاترين ناروغه وه او له ما سره نشي ليدې. ما ورته د ښه روغتيا پيغام ورکړو او بيرته په تياره کی خپل ميشت ځاې ته روان شوم. هغه وخت ما ځان ډېر يوازې احساسوو. د کاترين ليدو ته ورتګ زما لپاره يو معمولي کار و خو اوس لکه چې په زړه مې يوه تيږه پرته وه.
په بله ورځ مې امر تر لاسه کړو چې د شپې به يوه حمله کيږي او په محازځلور ايمبولانس ګاډي پکار و. مونږ د ماښام په خړه کی روان شواو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په لومړي ایمبولانس کی ناست وم. کله چې د بریطانیې روغتون مخې ته تېرېدو نو د ایمبولانس ډرایور ته مې د ګاډې د اودرولو امر وکړو. ده ته مې وویل چې ورور ورو روان اوسه او که د پله په سر زه نه ووم نو هلته دې راته انتظار وکړي.
له ګاډي مې ټوپ کړ او په منډه روغتون دروازې ته ولاړم. هلته مې د کاترین د لیدو غوښتنه وکړه. چا راته وویل، چې هغه په ډیوټۍ وه او نشوه راتلې. ما ټینګار وکړو چې یوې شیبې له یې لیدل غواړم. هغې ته پیغام ورسول شو نوراغله. د روغتیا پوښتنه مې وکړه نو راته یې وویل چې دا ګرمۍ وهلې وه خو اوس ښه وه. زما یونیفارم ته یې پام شواو وې ویل، کار ته ځې؟ کله به بیرته راځې؟ ما وویل، نن شپه به په محاز تیرووم، کیدیشي سبا بیرته راشم. هغې ژر د خپلې غاړي نه یو تعویذ راوویستو او راته یې په لاس کیښودو. "دا د ژغورنې لپاره په غاړه کړه او لوز وکړه چې سبا به بیرته راځې". ما ته یې په مخه ښه وویل او د روغتون له دروازې مې منډه کړه. یو واری مې شا ته وکتل نو کاترین هم هلته ولاړه وه او راته یې لاس خوځوو.
په منډه منډه مې هغه پل ته ځان ورسوو چې ایمبولانس راته په انتظار و. ایمبولانس روان شو نو ما په لاس کی نیولې تعویذ ته چې په یو زنځیر پئیلې و، وکتل. بیا مې دا د خپل کمیس په جیب کی کیښودو. ډرایور راته هم هغسې یو تعویذ پخپله غاړه کی راښکاره کړو او وې ویل چې دا خلک په غاړه کی اچوي. ما تعویذ بیرته له جیبه راوویستو او زنځیر مې په غاړه کړو. بیا مې دا د کمیس له غاړې وردننه کړواو رانه هیر شو.
وروسته چې زه ټپي شوم نو بیا مې وونه موندلو. ښاي د ملهم پټۍ پر وخت چرته پاته شوي و. زمونږ ګاډي په چټک نورو ته ځان نږدې کړو چې د لارې دوړې یې بادولې. په یو قافله کی په لومړي ګاډي کی کښیناستل په دی ګټه ور وي چې له دوړو خلاص یې. د شپې مونږ د سیند سره تلونکی لوې سړک ته ورسېدو او د جوارو د پټیو نه وراخوا سنګرونو ته ورنږدې شو.
د سیند نه پورې غاړې ته د اوبو سره سره مې د مشین ګنو او د ټوپکو د ډزوغږ اوریدو. د اوبو شړهار او پکی د غورځیدونکو توکوشور جوړ کړی و. په اسمان کی د رڼا لپاره ویشتل شوي ګولۍ به وچودیدې او لکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستورو په هوا کی یې لامبو وهله. چار چاپیره غرونه او ونې به پرې روښانه شول. د بمونوغړمبارې مې اوریدو خودا د لړی شیبې لپاره و. مونږ ایمبولانسونه په یو ځاې کی منظم ودرول او زه د ډرایورانو د ډوډۍ لپاره تورن ته ورغلم چې په سنګر کی ناست و. ده لنګر خانې ته زمونږ لپاره د ډوډۍ پخولو امر وکړو نو زه د اطالوي ډریورانو سره په یوه مورچه کی کښېناستم . هلته ټولو سیګرټ څکول اود جنګ په اړه خبرې کیدې چې څوک به حمله کوي او څوک به پکی بایلي.

پاسیني. د حملې له پلان یواځې کوماندان خبر وي. دی خپلو پوځیانو ته ټول حال نه واي چې دوي به تیښته نشي.

الپیني. هو دا دومره لوړ دنګ ځوانان چې پلنې سینې لري، سرونه یې تش وي. (ټولو په دې خبره وخندل)

مانیره. که زمونږ پوځیان خپله وسله وغورځوي نو جنګ به نه کیږي.

الپیني. که دوي داسی وکړي نو خپل کوماندان به یې وژني.

پاسیني. دا ځکه چې ماتې خوړل او د دښمن لاس ته ورتلل لا بد کار دې.

مانیره. د یوې غاړې د پوځیانو له خواجنګ نه کول، څه ګټه نه کوي، که ټولو غاړو نه هر څوک وسله کیږدي نو هله جنګ بندیږي.

پاسیني. جنګ ګټل بریالیتوب نه وي. که دوي دا مخامخ غونډۍ ونیسي، نو څه؟ بیا به د بلې غونډۍ لپاره جنګیږي. بیا بل او دغسی به روان وي. ښه نو په اخر کی که دا ټوله نړۍ هم رالاندی کړي نو څه؟ هر څوک خپل کور لري، اتریش خپله زمکه لري، فرانسه خپله او اطالیه خپله، نو جنګ په څه دی؟

مانیره. ته ډېر ښه تقریر کوی. ( ټولو بیا وخندل)

الپیني. یوه ډله خلک چې د ملک چارې په لاس کی ونیسي نو بی عقل شي. ځکه خو بیا جنګ کوي او زمونږ په شان خلک وژني.

زما سیګرټ خلاص شول نو مورچې نه ووتلم او ګوردیني هم راسره شو. د روغتون خېمې ته ولاړم نو هلته ډاکټر راته وویل چې حمله د یو ساعت لپاره ځنډیدلې وه. بره په غرونو د اتریش پوځ زمونږ په سنګرونو د لټون رڼا ګانې غورځولې. زه په خېمه کی کښېناستم او څو شیبې خاموشي وه. بیا نابېره د توپو ډزې پیل شوی. ماتورن ته وویل، صیب زمونږ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوډۍ تر اوسه نه ده راغلې. ده لا ځواب نه و راکړی چې بهر یوه ګوله راپرېوته او هری خوا ته دوړی شوې.
ما تورن ته بیا وویل، زمونږ ډوډۍ څه شوه؟ څه د خواړو لرئ که نه؟ جګړن وویل، سپاګېټي ( ماینچې) درکولی شم، که خورئ. ما ورته ویل، هر څه چې وي، رایې کړه. هغه یو اردلي ته امر وکړو چې څو شیبو وروسته د سړی میکروني د یو خانک سره راغلو. ما خانک ګوردیني ته ورکړواو جګړن ته می وویل، پنیر لرئ. ده په قهر اردلي ته امر وکړو چې بیا ولاړو او په یوه شیبه کی یې د سپین پنیر یوه لویه ټوټه راوړه. زه خیمې نه وتلم نو تورن راته وویل، "بهر مه اوځه!" بیا دوو کسانو یو ټپي پوځي رادننه کړو نو ما بهر قدم کېښودو. تورن په چیغه وویل، "بهر ګولۍ وریږي، مه اوځئ." ما په چیغه وویل، زما ملګري اوږي دي.
ګورډیني خانک په لاس ولاړ و او ماته یې کتل. ما ورته اشاره وکړه او مونږ له خیمې د مورچې لوري ته په منډه شو. زمونږ چاپیره ګولۍ وریدې او دوړې یې بادولې او زما په لاس کی سپین پنیر پری ولړل شو. په سنګر کی می په ټولو غږ وکړو چې راځئ توریالو چې ځانونه ماړه کړو. یو چاقو مې راوویستو او د میکروني د پاسه مې پنیر په وړو ټوټو پریکړو.
یو کس وویل، مونږ خو پنجې او قاشوغې نه لرو، دا به څنګه خورو. ورته مې وویل، وګورئ. بیا مې په کټې او دویمې ګوتې میکروني راواخستل، خله می اسمان ته کړه او وومې خوړل. ورپسې مې د پنیر ټوټه وخوړه.
خانک مې نورو ته ورکړو او هر چا تری یوه نمړۍ واخیسته. یو چا وویل، دا میکروني باسي دي. څو ورځې پری تیرې شوي دي. خوټول اوږي او وار په وار خانک ته یې لاس ورغځوو.
زما په خله کی د دی مېکروني خوند داسی و لکه چې فلز مې خوړل.
زمونږ سنګر نه بهر څه راپریوتل چې زمکه یې وخوځوله. بیا د چر چر غږ مې واورېدو او د غړمب د غږ سره د تودې هوا یو غبار راپورته شو. ما ساه نشوه راښکلې او نابېره مې ځان په هوا کی احساس کړو، داسی لکه چې د خپل وجود نه راوتلې ووم. ځان سره مې وویل، دغه مرګ دې، لکه چې زه مړ یم . خو بیا د پورته تلو پر ځای خپل ځان مې پر زمکه احساس کړو او ساه مې واخیسته.
زما مخامخ زمکه چودېدلې وه او سر مې د یوی تختې سره لګیدلې و. زما د سر په حرکت یو چا وژړل، د خوځېدو هڅه مې وکړه خو نه می شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی.  نږدې راته چا غږ کوو نو ما خپله پښه تاو راتاو کړه او ځان مې له خاورو راخلاص کړو.  ما سره څنګ کی پاسيني ډرايور پروت و چې يوه پښه يې نه وه او بل يې تر زنګانه پرې شوی وه.  ده د درد له لاسه زړېروې کول، مريم مور، مقدس مريم، عيسا پيغمبر، اې ښکلې پيغمبر پخپل غيږ کی مې ونيسه...مريم مور مرسته راسره وکړه.  ده پخپلو متو خله لګوله اود درد د لاسه به يې چيغه کړه.  بيا غلې شو خو پرې شوې زنګون يې بيا هم خوځيدو.
ما په اطالوي ژبې د مرستې لپاره څو وار ناره کړه، پاسيني ته وښکېدم او د ده د کميس توکمې مې ورته پرانستې چې ساه واخلي.  خپل کميس می وويستو، لمنه مې وشلوله او د ده پرې شوی پښه مې د زنګون سره د تړلو هڅه وکړه.  ما به په ګرمی کی جرابې نه په پښو کولې خو ټولو ډرايورانو خپلې پښې په اوږدو جرابو پټولې.  ما د ده له پرې شوې پښې جراب وويستلو چې يوه کلکه پټۍ تری جوړه کړم او د ده وينه پرې بنده شي.  خو هغه وخت می احساس وکړو چې د دی پټۍ هيڅ ګټه نه وه.
پاسيني مړ و.  يو څوک په سنګر کی زمونږ مرستی ته راغلل نو ورته مې وويل، دلته مونږ پينځه کسان و.  يو ډريور مړ شوی دې، درې نور به هم دلته وي. لټون يې وکړئ.  دوو کسانو زما په تخرګونو کی لاس وردننه کړو او زه يې پورته کړم.  زما پښې ځوړندی وی او يوکس مې پښنو ته لاس واچوو.   هلته تسکره نه وه چې زه يې ايمبولانس ته اوړی وې.  يو چا نه می د خپلو نورو ملګروپوښتنه وکړه.  دوي راته د يو يو حال ويلو چې ناڅاپه يو درز وشو او دوي پر زمکه پريوتل.  زه يې هم غوځار کړم نو له خلې مې ښکنځله راوتله.  دوي بخښنه وغوښته او زه يې بيا پورته کړم. د سنګر نه وراخوا پر زمکه ډېر مړي پراته و.
د ملهم پټۍ د خيمې پرده چې به د تسکرو د اوړلو راوړلو لپاره پورته شوه نو دننه په رڼا کی می ډاکټرانو سورمخونه ليدل چې لکه د قصاب لستونړي يې تر اوږو خيجولې، په ټيپانو اخته و.  کله چې يې زه دی خيمې ته وو رسولم نو يو ډاکټر يې راته راوستلو او ده زما په دواړو پښو پټۍ تاو کړی.
د ايمبولنس چلوونکي ځينې ټيپان شوي و او زه يې هم هلته په انتظار کښېنولم.
د بريطانيې طبي ډلې دوه ايمبولانسونه راستولي و چې دوه انګريزان ورسره و.  يو لوړ دنګ کس چې عېنکې يې په سترګو وي، زما خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلو اوپوښتنه یې وکړه، "ستا دوه ډریوران وژل شوي دي؟" ما ورته وویل، یو مړ دې خو بل سخت ټپي دې او ګاډې نشي چلولې. ده ته مې خواست وکړو چې زمونږ دوه ګاډي دی پخپل واک کی واخلي چې نور ټپیان هم روغتون ته ورسول شي. هغه سړی چې ما سره یې په انګریزي ژبه خبری کولې، زما ملګرو سره یې روانه اطالوي ویله، خیمې ته ولاړو او لږه شیبه وروسته راوتلو نو یو تسکره یې رانږدې کړه.
ما وویل، زه ښه یم، هلته زما نه په بد حال ټپیان پراته دي، د هغوي غم وخورئ. ده راته وویل، راځه راځه، ډېر د ځان نه اتل مه جوړوه. بیا یې په اطالوي کی د تسکری اوړونکو ته وویل، دی په پام راپورته کړئ، ګوره پښو یې سخت ګوزار خوړلې دې. دی د صدر ولسن قانوني زوې دې .
دوي زه خیمې ته یوړم او پر یو میز یې سملولم. هلته کوم ډاکټر چې زما پر پښوپټۍ تړلې وې زه یې وپیژندلم او ستړي مه شي یې راته وویل.
لوړ انګریز ورته په اطالوي کی وویل، تر څو چې زمونږ ایمبولنس راځي، دی به هم دلته وي. په ده پام کوئ چې د امریکې د سفیر زوې دې.
هغه له خیمې ووتلو نو ما ولیدل چې په هر میز د ټپیانو درملنه کیده. دوه ډاکټران په ما اخته شول. پتلون یې رانه لیرې کړو او یو کس بل ته زما د ټپونو په اړه وویل، بل کس په یو کاغذ دا هر څه لیکل. د لینګو او زنګانونو د ټپونو نه وروسته، ده زما سر له لاس یوړو نو د درد احساس می وکړو. ده په زوره وویل، "ماته کپری". بیا یې وویل، " د دی خبری ثبوت دی چې تا ځان پخپله نه دی ټپي کړی."
دوي زما زنګنونو ته چړې نیولې وې او کله به یې غوښه او کله څرمنه پری پریکوله. کله کله به زما له خلې یوه چیغه راوتله خو دوي خپل کار کوو. یو تن راته د سر ټپونه پاک کړل اوپه پټیو کی وپوښلو. کله چې دوي زه له خیمې ویستلم نو په سترګو مې تیاره شوه خو دومره مې احساس کوو چې دوي زه یوایمبولانس کی وردننه کړم. ما سترګې پرانستې وې او دننه په معمولي رڼا کی مې ولیدل چې راسره یو بل کس هم بې هوشه په تسکره کی پروت و. ګاډې روان شو او د لارې هر تیندک زما په سر لکه چې ګوزارونه کول.
په تیاره کی مې څه نه لیدل خو هر یو غږ ته مې پام و. ناڅاپه د څاڅکو غږ مې واوریدو چې د ګاډي په فرش پرېوتل، داسی لکه چې د مات نل نه یوه یوه قطره اوبه څاڅي. ما ورته غوږ ایښې و چې څاڅکي په تیزۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغورځېدل نو د ډرایور لوري ته مې د ګاډي دیوال وټکوو. هغه انګرېز د ډریور شا ته یوې تختې په لیرې کولو چیغه کړه چې څه چل و. ما ورته وویل، "د دی بل کس له ټپونو وینې رواني دي، څه غم یې وخورئ." ده بیا چیغه کړه چې اوس ښار ته نږدې یو او موټر نشو ودرولې. ما په زوره وویل، ښاي ترهغې مړ شي. څو شیبی وروسته دا څاڅکي وروور ورو غورځېدل او اخر بند شول.

زما د اپرېشن نه وروسته یې د جنګي روغتون په یوه کوټه کی پر کټ سملولم. هلته څو کټونه په قطار ایښي و او په هر یو ټپیان پراته و. ماځیګر به یو دوه کسان زمونږ پوښتنې ته راتلل. ګرمي سخته وه او مچان به هری خوا بنګېدل. زما اردلي د کاغذ اوږدی ټوټې په یوې سوټی تړلې وې او په دی به یې رانه مچان شړل. مچان به ولاړل په چت کښېناستل خو کله چې اردلي به لاس ودروو او یا به ویده شو نو بیا به راباندی راټول شول.

بیا د دی مچانو په شړلوشړلو یو وخت خپل مخ به مې په لاسونو پټ کړو او ویده به شوم. کله چې زه به یې د ملهم پټۍ ( پاسمان) له بوتلم نو سخت به په تکلیف ووم. یوه ورځ رینالډي زما پوښتنې له راغلو. زما پښې یې ښکل کړی او راته یې وویل،

رینالډي. تا ته به د برونزو مېډال ورکول کیږي.

زه. د څه د پاره؟

رینالډي. ته په جنګ کی ټپي شوی یې. که تا سره ثبوت وي چې په جنګ کی دی میړانه کړی ده نو بیا به نقرېي مېډال درکوي. راته ووایه چې کله ته ټپي شوې نو څه دی کول؟

زه. ما هغه وخت پنیر خوړل او هیڅ میړانه مې نه ده کړی.

رینالډي. ټوکی مه کوه. که تا له سنګر خپل ملګرې یا بل څوک ټپي په اوږو خوندي ځاې ته اوړلو نو دا یوه لویه میړانه ده. تورن به درته په اسنادو دستخط وکړي.

زه. ما هیڅوک نه دي ژغورلي، زه د خوځېدو نه ووم ، پښې مې ماتې وې.

رینالډي . پرواه نه لري، خو تا هغه انګرېز ته نه وو ویلي چې ستا نه وړاندې دې د نورو درملنه ووشي.

زه. ویلي مې و، خو دومره په کلکه نه چې څوک راته مېډال راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رينالډي. خير دې مونږ. به ووايو چې ته هر وختې د محاز په لوري په لومړي ګاډي کی ورتلې او د خطر پرواه دی نه کوله. هلته يو انګريز هم و، کيدېشي چې تا ته د بريطانيې حکومت هم يو ميډل درکړي

ما يو سوړ اسولې وکړو او سترګې مې پټې کړې. ما د کاترين په اړه سوچ کوو خو نه مې غوښتل چې هغه له ما خبر شوې وې. په دی روغتون کی ما خپل ځان لکه د ماشوم احساس کړو. د ماښام له تياره وړاندې به يې ډوډئ راکړه، د تياره سره به رڼاګانې بندې شوې او مونږ. ته به يې د ويده کيدو وويل. يو ماښام ما ښوروا وخوړه او لوښي يې رانه يوړل نو څوک زما کټ څنګ ته ودرېدل. دی زمونږ. د ډلې اطالوي پادري و. زما حال يې وپوښتلو او يوڅو غوټې يې زما د کټ سره کيښودې. دی لنډ وخت له راغلی و خو په څو شيبو کی يې راته وويل چې له جنګ څومره ويزاره و. په غوټو کی يې را له د مياشو جال ( پشه خانه) د ولوستلو لپاره څو انګريزي ورځ پاڼې او يو د شرابو بوتل راوړي و.

په بله ورځ يو جګړن راغې او پوښتنه يې رانه وکړه چې د سفر کولو توان مې لرلو. ما وويل هو اوس ښه يم. کله چې دوي زه د پټئ لپاره له کټ پورته کړم نو له کړکئ مې وليدل چې مخامخ چمن له نويو قبرونو ډک و. يو ترکاڼ ( نجار) د لرګي د تختو نه صليبونه جوړول. څو ورځې وړاندی ده راته د تش کارتوس نه د سيګرټ لګيت (لايټر) جوړ کړی و. ډاکټرانو غوښتل چې ما د ميلان ښار ته ورواستوي، ځکه هلته د ايکسری ماشينونه ښه و او د عملياتو نه وروسته د هډوکوعلاج کيدې شو. په بله ورځ د ميلان لپاره زما سفر پيل شو او دوه ورځې مې په اورګاډي کی تېر کړل چې راباندی سخت تمام شوی.

په ميلان کی يو ايمبولانس کی يې واچولم او امريکاي روغتون ته يې بوتلم. دوو کسانو تسکره لفټ ته يوړه خو دا دومره پلنه وه چې د لفټ دروازې کی نشو وردننه کيدې. ما ته يې په تخرګونو کی لاسونه ورکړل اوپه لفټ کی يې څلورم پوړ ته وخيژولم. خو هلته هيڅوک نه و چې راته يې کوټه پرانستی وې. مونږ. په دهليز کی ولاړ و او يو کس ته مې وويل چې ښکته ورشي او نرسه دی راولي. يوه سپين سری نرسه راغله او ما ته يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزي ژبی وویل، زه په اطالوي نه پوهیږم. ما ورته په انګریزي کی وویل، خیر دي، ما سره په انګریزي کی خبری وکړه.
نرسي راته وویل چې دوي ته چا د نوي مریض په اړه خبر نه دی ورکړی. ما ورته خواست وکړو چې یوه تشه کوټه کی مې واچوه. هغې وویل، مونږ یوه کوټه هم تشه نه لرو. ما اطالوي خدمتیانو ته د هغوي په ژبه وویل، ورشئ که یوه کوټه تشه وي، ما پکی وردننه کړئ. یو کس راته وویل، ټولې کوټې تشې دي، ته د دی روغتون لومړی مریض یې.
تر هغې زما حوصله ختمه او د درد زغم مې نه لرلو نو په چیغه می ورته وویل، د خداې لپاره یوه کوټه کی مې سملوئ. دوي ژر د یوې کوټې دروازه پرانسته چې هر څه پکی نوي و او زه یې په کټ سملولم. ما د ډاکټر غوښتنه وکړه نو نرسی راته یې وویل چې هغه په بل ښار کی و. بیا مې د "کاترین برکلې" پوښتنه وکړه نو راته یې وویل چې په روغتون کی په دی نوم څوک نرسه نه وه. خدمتیانو ته می یو څه پیسې ورکړی او ټول رانه ولاړل. شیبه وروسته زه تږې شوم او داوبو لپاره می د کټ سره جوخت لګیدلې زنګ وغږوو خو هیڅوک رانغلل.
زه هم هغسی ویده شوم. سهار یوه ځوانه نرسه راغله او زه یې پاک کړم. بیا سپین سری هم راغله او دواړو راته پاکی جامې واغوستی او درې ګیلاسه اوبه مې وڅښلې. دوي راته وویل چې ډاکټر ته خبر ورکړی شوی دی او دی به نن سبا کی راشي.
په بله ورځ ځوانې نرسې راته وویل چې د شپې کاترین نومې نرسه زما لیدو ته راغلې وه خو زه ویده وم. ما تری غوښتنه وکړه چې یو ناي (ډم) دی راته راولې چې ږیره او ویښته جوړ کړم. کله چې ډم راغلو نو ما تری د ښار حال وپوښتلو، خو ده سم ځواب نه راکوو. راته یې وویل، په هره کوڅه کی د اتریش موټری ګرځې او زه د خپل ملت دښمن سره خبری نه کووم. زه غلي شوم چې هسی نه د ږیرې خریلو پر ځاې دا چاقو راته په خیټه کی وومندي. د ده کار چې خلاص شو نو پیسی مې ورته ورکړی. د ماتو پیسو بخشیش یې رانه وانخستو او په قهر ټولې سیکې یې پر میز راته پریښودي او ولاړو.
ما یو خدمتي راوغوښتو او پوښتنه می تری وکړه چې دا ډم لیونې و؟ هغه وخاندل او وې ویل، دی داسی پوه شوی و چې ته د اتریش اوسیدونکی یې.
هغه په زوره زوره وخاندل نو ما وویل، که په چړه یې زما څټ غوڅ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی نو اوس به دی ژړل. دی چې له دروازې ووتلو نو څوک رادننه شول. دا کاترین وه او له وړاندی راته ډېره ښکلې ښکاره شوه. ما سره یې روغبړ وکړو او زما د کټ سره جوخت په کرسۍ کښېناسته. مونږ تر ډېره وخته خبری کولې او ما نه هیر شول چې زه په روغتون کی وم. هغې راته وویل چې ډاکټر به ماځیگر ته راورسیږي. ما غوښتل چې هغه ښکل کړم خو په سخته یې منع کړم او راته یې وویل، ستا حالت ښه نه دی. بیا یې وویل، د نورو خلکو په وړاندی به ډېر احتیاط کوې چې دا زما د کار د اصولو خلاف خبره ده.

ماځیگر محال ډاکټر راورسیدو او سمدلاسه یې د ایکسری لپاره بوتلم. د دی مشینونو چلوونکي ډېر په جوش لگیا و او زما په زنگون او لینگو کی یې د اوسپنې وړی ټوټې وموندلې. راته یې وویل چې ماښام به د ایکسرې د ماشین عکسونه راته ښاي. ډاکټر راته یوه نوی دارو وښودل چې د عملیاتو پر ځاې به یې ومښلو او د درد احساس به یې لیرې کړو.

ده د سټیلو(فولاد) جوړ نویو اوزارو په کارولو زما د پتون له غوښې د اوسپنې څو وړی ټوټې راوویستلې چې ما پخپلو سترگو لیدلې. وروسته یې خپلې کوټې ته بوتلم او ماښام راته کاترین هغه عکسونه راښکاره کړل چې پکی زما د هډوکو او پکی خښ فلزي ټوټې مو لیدې شوی. ما کاترین ته وویل چې راسره پاتې شي. خو هغې عکسونه بیرته په یو لوې سور رنگ پاکټ کی کیښودل او د بیا راتلو د لوز سره له کوټې ووتله.

په بله ورځ دری ډاکټران راغلل او زه پوه شوم چې دوي ټول په خپل مسلک کی کمزوري و، ځکه کله چې ډاکټران په ډلو کی گرځي نو د یو بل نه مشوره اخلي او پر ځان باور نه لري. په دوي کی یو جراح و، راته یې د علاج په اړه معلومات راکړل چې شپږ میاشتې وخت یې اخستو. زما دا خبره خوښه نشوه. هغه ډاکټر می راوبللو چې زما له پتون یې د اوسپنې ټوټې ویستې وې او ورته مې وویل چې زه شپږ میاشتې په کټ نشم تیرولې. ده وویل، ضرور نه ده چې ته دی په کټ پروت اوسې. مونږ غواړو چې لومړی ستا پرهرونه لمر وخوري چې ژر جوړ شي. بیا به نوری ټوټې درنه وباسو او ورپسې به د هډوکو د جوړېدو علاج پیل کیږي.

ما ورته وویل چې زه په هغه ځوان سرجن (جراح) باور نه لرم او ما ته دی بل ښه کس راوغواړي. ده راته د ځوان صیفتونه کول خو ما نه منل. اخر یې راته د یو بل سپین ږیري جراح نوم واخستو چې ما پیژندلو اوپه بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ يې راوغوښتو. هغه د راتلو سره سبا ته د لومړي عملياتو فېصله وکړه او راته يې وويل، "ته بايد نن د شپې څه ونه خوري."
کاترين د شپې تر ناوخته راسره وه. په بل سهار زه يې عملياتو ته بوتلم اوچې په هوش کې راغلم نو پخپل کټ پروت وم. نرسه راغله نو راته يې وويل چې عمليات دوه نيم ساعته روان و. ما غوښتل چې کاترين ووينم خو هغه په ډيوټۍ نه وه. اوس په دې روغتون کې نور مريضان هم راوړل کيده او کاترين به پخپل نوبت د دوي پالنه کوله.
يوه ورځ نرس هيلن فرگيسن زما ليدو ته راغله او ټوکې يې راسره کولې چې ما په سرگوزار خوړلې و او ښاي يو څه ليونې شوې يم. زما ټپونه جوړ شول نو کله کله به له کټ ښکته کيدم. کاترين به د رخصت پر ورځ زه په څرخي څوکۍ کښېنولم او بهر به يې وويستلم. په ماځيگر کې به هوا سړه شوه نو په پارک کې به کښېناستو. ورو ورو زما په پښو کې توان پيدا شو او زه به کله کله په ډانگورو وگرځيدم. کله د کوټې مخ ته د برنډې په يو چوکۍ کښېناستم او په اسمان کې مې د توتکيو سېل کوو.
د روغتون په ښکته پوړ کې د نرسانو د اوسيدو ځايونه و. يوه ورځ کاترين زه په پټه خپلې کوټې ته بوتلم او هلته مې د دې سره ښې ډېرې خبرې وکړې. د کار پر وخت به د ټولو نرسانو ويښته په خوليو کې پټ و او ما چيرې د کاترين ويښته نه و ليدلي. اوس دې خولۍ او له تاو شويو ويښتو سيخونه ليرې کړل نو ما وليدل چې هغې څومره لوې او ښکلې ويښته لرل.
مونږ د راتلونکي ژوند په اړه خبرې کولې او غوښتل مو چې واده وکړو خو د جنگ له کبله راته اندېښنې وې.
ما به ورځپانو کې د يوې او د بلې غاړې د برياو خبرونه ولوستل او ارمان مې کوو چې دا جنگ ژر پاې ته ورسېږي. اوړې هم دغسې تير شو او د منې په سر کې ما له ډانگورو ځان خلاص کړو او د يوې امسا سره مې قدم وهلې شو. خو کله چې زه به د کاترين سره ښار ته تلم نو ډانگورۍ به راسره وې، ځکه کاترين بيا را سره په اسانه راتلې شوه. که داسې مې نه وی کړی نو ټولو به هغې ته پيغور ورکوو.
بيا زما د هډوکو علاج هم پېل شوې و چې د زنگون د تاوولو تمرين و. څو ورزشونه د پلې د نرمولو او د بندونو د تاوولو لپاره يې راباندې کول. کله به يې مالش راکوو او کله به په تودو اوبو کې کښېناستم. زما د هډوکو معاينه وشوه او د تداوي ټول اسناد يې راته جوړ کړل چې زما فرقې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورواستول شول. څو ورځی وروسته یو لیک مې تر لاسه کړو چې پکی د دریو اوونیو له رخصت وروستو کار ته د حاضریدو امر شوې و.

کاترین راته خبر راکړو چې د ماشوم سره وه او بیا یې پوښتنه وکړه چې زه ورته په قهر خو نه وم. ما ورله ډاډ ورکړو نو دی وویل،

کاترین: غم مه کوه، ټول خلک ماشومان راوړي، زه به د هر څه غم وخورم. ته خو ځان له ما سره قید نه احساسوې؟
زه: ستا سره نه! د دی حالاتو له کبله ځان تړلې احساسوم.
کاترین: مونږ به یو واری بیا د یو بل سره ووینو.
زه: هو! ته ډېره زړه وره یې، خومرګ هم شته.
کاترین: تا نه دي اوریدلي چې بې زړه کس سل واري مري، خو د زړه ور مړینه یو ځل وي.
زه: هو که زړه ور هوښیار وي نو بیا د ژوند هره شیبه ورته مرګ وي. د جنګ نه وروسته به کوم ځای ژوند کوو؟
کاترین: ښاي د زړو خلکو په کور کی. د جنګ دری کاله وتلي دي او هر کال زما دا هیله وه چې دا دی د کرسمس پر وخت بند شي چې مونږ یې په امن ولمانځو. خو اوس راته داسی ښکاري چې زمونږ زوې به په پوځ کی وي نو دا جنګ به بس شي.
ما هغې ته د خپلوکاغذونو او د رخصت په اړه خبر ورکړو نو وې ویل، دا خو ډېره ښه خبره ده. ته کوم ځاې ته تلل غواړې؟ ما ورته وویل، هیچرته نه، زه دلته پاته کیدل غواړم. هغې وویل، د ماشومانو کانه مه کوه، یوځاې غوره کړه او زه به هم درشم. ما ویل، ته به څنګه راځې؟ ویل یې خبره نه یم خومعلوم به شي.
ما او کاترین پلان جوړ کړی و چې زما د رخصت دوه اوونۍ به مونږ یو ځاې تیروو خو په بله ورځ زه بی شیمې وم او نرسی زما سترګې ولیدې نو ډاکتر یې راوبللو. هغه له معاینې وروسته وویل چې زما ژیړې و. پاتې رخصتي مې هم په دی ناروغۍ کی ضایع شوه. په روغتون کی په وروستي ورځ ټولو سره مې په مخه ښه وکړل او خپل سامان می د یو خدمتي په لاس د میلان د اور ګاډي سټیشن ته ورواستوو. ګاډې د تورین نه د شپې پر لسو بجو راتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د کاترین سره بازار ته ولاړم. د وسلې په یو دکان کی مې خپل زړه طفنچه خرڅه کړه او په بدل کی مې یوه نوی واخسته. د ژمي هوا سړه شوی وه او باران هم کیدو. یوځاې په اس ګاډي کی کښېناستو او زه په سټېشن کی ښکته شوم ، کاترین مې ښکل کړه او کوچوان ته مې د روغتون پته ورکړه چې دا هلته ورسوي.

د دوو ورځو د سفر نه وروسته زه بیرته ګوریزیا ته ورسیدم او هلته هر څه هم هغسې و چې تیر ژمي کی مې لیدلي و. زه خپلې کوټې ته ولاړم او وومې لیدل چې د رینالډي سامان هم هغسې ایښې و خو دی پخپله نه و. کله چې دی راغې نو له روغبړ وروسته یې زما لینګي او زنګانونه معاینه کړل او وې ویل، ته باید نور هم په روغتون کی پاتې شوی وې، ځکه ته روغ نه یې. ما ورته وویل، په پښو ودرېدې شم، دا راته بس دي. د شپې د ډوډۍ په وخت مې نور ملګري ولیدل، تورن، پادري، جګړن، فریډي. په ډوډۍ کی د غوښې قورمه وه او خبری د دښمن په اړه وې.

رینالډي. دا د اتریش د افسرانو غوښه ده چې داسی کلکه ده. اې پادري صیب ته ولې نن غوښه خورې؟ نن خو جمعه ده.

پادري. نن د پنج شنبې ورځ ده.

جګړن. نن په لنګر کی ډېره خاموشي ده، ځکه داسی ښکاري هر څوک رخصت دي.

رینالډي. دا لعنتي جنګ به کله پاې ته رسیږي؟ دا هر څه د سینټ پال د لاسه دي. اورې پادري صیب؟

جګړن. تر څو مو اتریش په ګونډو کړی نه وي، جګړه به روانه وي.

پادري. خو اتریش که دا جنګ وګټلو نو هم وسله به نه غورځوي. دوي به یو نوی محاز پرانیزي.

په بله ورځ زه هغه غونډۍ ته ولاړم چې د اتریش پوځ پری پروت و او ښکته زمونږ پر محاز یې بمباریٔ کولې او زه پکی ټپي شوم. ډېر عجیب احساس می کوو. له هغه ځایه یو سړک ښکته تللې و او د بمباریو له کبله ډېر کورونه وران شوي و. د ایمبولانس ډرایور جینو مې ولیدو چې د جنګ حال یې راته وویلو. په هغه شپه شوی جنګ اطالویانو ګټلې و او اوس ښکته د وړاندی نه زیات شمیر ګاډي ولاړ و.

جینو راته وویل چې د بریطانیې پوځ هم راغلی و او د اتریش سره بوسنیا او د کرویشیا پوځونه مله و. له سیند وراخوا اوس په یوې بلې غونډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ پیل شوی و او کله کله به د ډزو غږ مو واوریدو. جینو زه یو کور ته بوتلم چې پکی د ایمبولانس ګاډي او د دی چلوونکي میشت و. د کور بهرني دیوالونه مات و خو دننه خوني د اوسیدو وې. یو وخت د سیلۍ طوفان راپورته شو او اسمان خړ شو. بیا داسی باران وشو چې ځای ځای ډنډونه جوړ شول.

باران تر ماسپښین وریدو او چې لمر راوتلو نو ما بره وکتل. د غونډۍ په سر اوس د توپو لوړې ښکاریدو. هغه کورونه چې بمباری کی وران شوي و د دی ملبه کی په زرګونو د بمونو وړی ټوټې او ګولۍ پرتې وې. د موټرو د تګ لاره پاکه کړی شوی وه او مونږ ماځیګر په دوو موټرو کی لومړۍ لیکې ته روان شو. د سړک دواړو غاړو ته د پروړو څادرونه ودرول شوي و چې اوس د باران له کبله لامده و.

د شپې بیا باران وریدو او درې بجې وې چې مونږ محاز لوري ته نږدې شو. د کرویشیا پوځ په تیاره او باران کی هم جنګیدو او د بارودو بوي مې سپږمی سبځلې. د ټوپکو او د بمونو په ډزو سری رڼاګانی می لیدې شوی. اخر د مخالف لوري ډزې بندې شوې خو شمال لوري ته لیرې بیا هم جګړه کیده. مونږ ګاډي ایله درولي و چې د وړاندې لیکو نه یې لومړي ټپیان راوړل. په دوي کی ځینې په تسکرو، نور د ملګرو په اوږو او یو څو پخپلو پښو د بل په اوږه لاس ایښې را روان و. دوي ټول لامده و او سخت وحشت وهلي و.

دوه موټرې له تسکرو ډکی شوې. کله چې ما د دوېم ایمبولانس دروازه بنده کړه او پخپل سیټ کښېناستم نو پر مخ مې لاس ووهلو چې د باران اوبه تری پاک کړم . هغه وخت زما لاس کی د اوبو پر ځای د یخی وړی ټوټې راغلې. ما بهر وکتل نو د باران سره د واورې بنکي هم په زوره راپریوتې.

سهار واوری نه وې خواسمان خړ و او نوی حمله پیل شوی وه. د اتریش توپونو د ځنګل نه وراخوا له یو کلي بمباری کولې ، بیا دا غلي شول خو شمال لوري ته سخت جنګ روان و.

مونږ خبر شو چې په جنوب کی دښمن ماتې خوړلې وه او اوس ټول زور یې شمال ته و. د شپې تورن راته د یو ډګرمن له خلې وویل چې مونږ به محاز پرېږدو اوعقب نشیني به وکړو. وروسته دا خبر دروغ وختلو او راته یې وویل چې په هر حال به هم دی ځای کی دفاعي جنګ کیږي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امبولانس یو ډریور راته وویل چې اوس جرمني په جنګ کی وردانګلي و. دا د وېرې خبره وه ځکه د جرمني په ګډون اوس د یو سخت جنګ امکان و. ما د کوماندان نه پوښتنه وکړه چې زمونږ لپاره څه امر و. ده وویل چې ټول ټپیان دی شا ته میداني روغتون ته ورواستوو.
زمونږ د تیښتې امکان زیات و ځکه د اطالیې په پوځ فشار ډېر شوې و. زه تر اوسه د شا تګ حالت سره نه وم مخ شوی. له هغه مې وپوښتل چې د تیښتې پر وخت، د ټپیانو سره به څه کوو؟ ده راته وویل ، هر څومره چې له ځانه سره وړی شي، وایې خله او نور هم دلته پرېږده. ما بیا پوښتنه وکړه چې په موټرو کی نور څه له ځان سره وړې شو. د ده ځواب لنډ و، "د روغتون اوزار"
په بله شپه د محاز نه شا ته تګ پېل شو. خبر راغی چې د اتریش او جرمني پوځ زمونږ شمالي لیکي ماتې کړی وې او له غرونو ښکته را روان و. دا تېښته ډېره منظمه وه. د شپې زمونږ موټرې په داسی سړک ورو ورو خوځېدې چې په سوونو لامده خیشته پوځیان پرې روان و. د توپو ګاډي چې اسونو راښکل، یابو، د وسلو لاری ټول د محاز نه لیرې روان و. هغسې چې فوځ وړاندی حرکت کوي او پکی ګډ وډي وي، اوس هغه ګډ وډي نه لیدل کیده.
په هغه شپه مونږ د میدان روغتون له ټپیانو تش کړو او دوي مو شا ته یو بل ځاې ته یوړل. په بله ټوله ورځ په سخت باران کی مو د ټپیانو د وړلو کار کوو چې د "اوداین" ښار روغتون ته یې واستوو. په درېمه ورځ د غرمې زه ګوریزیا ته راغلم نو باران نه و خو ښار راته تش ښکارېدو. ومو لیدل چې ځینو خلکو له ښاره کډه کوله. زه خپل ځاې ته ورغلم نو هلته هم څوک نه و. زما ټول ملګري پخپلو کارونو پسې وتلي و. په ګیراج کی مې د ځینو موټرو د جوړولو امر وکړو او ټولو ډریورانو ته مې وویل چې درې ساعته خوب نه وروسته به روانېږو.
دوي په موټرو اخته شول او هغه موټر چې جوړ و میشتځاې ته مې نږدې ودروو. هلته زما ملګرو له وړاندې د روغتون الات او داروګان په بکسونو کی بند کړي او راته پرېښي و. دا مو په ګاډي کی بارول چې باران په ورېدو شو. زمونږ درې ګاډي په یوه قطار د ونو لاندې تیار ودرېدل. ما "پیاني" ته وویل چې په پخلنځي کی اور بل کړه او لمدې جامې پرې وچ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاني. زه د وچو او لمدو په غم کی نه یم، خوب غواړم.
بونیلو. زه خو به د تورن پر کټ ویده شم.
پیاني. هر یو کټ چې وي، خو غواړم چې سترګې پټې کړم.
بونیلو. (دروازه پرانیزي) ما ویل چې په دی کوټه کی به څه وي، دا خو دوه کټونه لري.
پیاني. زه به هم دلته پریوځم.
بونیلو. ته ویده شه او د اتریش پوځیان به دی پاڅوي.
پیاني. زه نور ایمبولانس نشم چلولی، تر څو مې شیبه خوب نه وي کړی. تېره پېره کی مې سترګې پټې وې. ښه ده چې ټکر می نه دی کړی.
بونیلو. خوب خو زه هم غواړم، راویښوي به مو څوک؟
ما ورله ډاډ ورکړو چې زه به یې راویښ کړم نو دوي دواړه د بوټانو سره په کټونو پرېوتل. نورو په پخلنځي کی اور بل کړی او اوبه یې د ایشولو لپاره پری ایښې وې. چا خپلې جامې وچولې او ورته مې وویل چې د لږ ارام نه وروسته به پنیر او د ډبو غوښه خورو. خو دوي د خوب پر ځای میکروني په پخولو اخته و. ما ورته په دېوال ځړېدلي لوې ساعت په نښه کړو چې که درې ساعته وروسته زه ښکته رانغلم نو ما دی راویښ کړي.
بیا زه خپلې کوټې ته ولاړم او په کټ پریوتم.
درې ساعته وروسته مو په پخلنځي کی ډوډۍ وخوړه. د شپې نهه نیمې بجې وې چې مونږ سفر ته ملا وتړله. کوم ډریوران چې تازه و، دوي ته مې د موټر چلولو وویل او خوب وړې مې ورسره کښېنول چې د لاری په اوږدو کی په ناستې خوب وکړي. د موټرو رڼا ګانې بندې وې او مونږ په یو قطارد "اوداین" لوري ته روان شو. د ښار دننه هر ډول ګاډي مو ولیدل چې په ځینو کی خلک او نورو کی سامان بار د وتلو په هڅه و. زمونږ مخ ته یو لویه لارۍ چې سامان یې په ترپال کی پټ و، روان و. لارۍ ودریده او بیا روانه شوه خو څو شیبې وروسته بیا پر ځای ودرېده.
زه له ایمبولانس ښکته شوم او وړاندې په سړک مې ولیدل چې چا لاره بنده کړی وه. خو د موټرو او لاریو قطار په سر کی د یو بل سړک نه د پوځیانو لارۍ تیرېدې چې د ټولو لاره یې ډب کړی وه. داسی ایسیدل چې دا لیکه به ژر نه خوځي نو زه راغلم او د "پیاني" سره کښېناستم. دی د موټر په سټیرنګ سر ایښې ویده و. زه هم ویده شوم او کله چې د لارۍ غرارې مې واورېدو نو دی مې پاڅولو او وړاندې وخوځېدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ واټن وروسته بیا هم هغه حال و. باران بیا وریدو او د لاری د خوځیدو هیڅ نښه مې نه لیده. ولاړم چې د نورو ګاډو له حاله ځان خبر کړم. په یوه کی مې دوه پوځي انجینیران ناست ولیدل چې په پله یې کار کوو او له خپلی ډلګی شا ته پاتې شوي و. زه بیرته خپل موټر کی کښېناستم او د کاترین په اړه مې سوچ وکړو چې هغه به ویده وي که ویښه. د سهار درې بجې ګاډي بیا ورو ورو خوځیدل خو د سپېده چاودې نه وړاندې بیا ودرېدو. د ورځې په رڼا کی مې ولیدل چې په غرونو کی تاو راتاو په هغه سړک په سوونو ګاډي ولاړ و.

د شپې شا و خوا د کلیو خلک هم د خپلو اس ګاډو سره په دی لیکه کی شامل شوي و. په دی ګاډو د خلکو د کور شیان بار و، یوه هنداره به د توشکونو له منځه راوځلیده،چرګان او بطې د ګاډو سره تړلي و. زمونږ مخې ته په یو ګاډي د ګنډلو ماشین په باران کی پروت و. دوي هرهغه څه چې ارزښت یې لرلو، راپه مخه کړي و.

په ځینو ګاډو کی ښځې له باران د پټیدو په هڅه د یو بل سره جوختې ناستې وې. نورې په سړک پلې د هر څومره چې یې کولې شو ګاډي سره نږدې روانې وې. سپې د باران له کبله د ګاډیو لاندې روان و. په سړک ختې وې او په کندو کی اوبه ولاړی وې.

زمونږ لپاره اوداین ښار ته د تلو بله لاره دا وه چې له سړک ښکته دی کلیو ته تللې وې خو د ونو نه وراخوا په پټیو کی دومره اوبه وې چې هیچا زړه نه ښه کوو چې پکی تګ وکړي. زه بیا له موټره ښکته شوم او شا و خوا مې وکتل چې که یو وړوکې لاره نورو ځایونو ته وتلې وي نو مونږ پری ورشو. خو دا مې هم نه غوښتل چې په نالیدلې لاری سفر وکړو. باران اوس هم وریدو او که دا دریدلې وې او د اتریش جنګي الوتکو په یو څو پوځي لاریو بمباری کړی وې نوټول به هم دلته پاتې وې.

اخر په یو ځای مې وړه لاره ولیده چې د شمال لوري ته تللې وه او دواړو غاړو ته یې ونې او پټې و. ماد نورو ګاډو چلوونکي خبرکړل. هغه دوه پوځي انجینیران زمونږ پکار و چې ګاډو ته یې ټیله ورکولې شوه. زما ملګري اوس وړ‌ي و او زما په اشاره دوي ګاډي هغه وړوکې سړک ته ورتاو کړل.

مونږ ښه شپېه مزل وکړو او د کلي یو کور ته ورسیدو چې اوسېدونکو تری کډه کړی وه. په یو طاق انګور ځوړند و او کوهې هم پکی و. یو چا بوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وردننه کړه او اوبه يې راويستلې چې د ګاډو په انجن وشيندي. نورو د ډوډۍ لټه وکړه او په پخلنځي کې يې پنير او منې وموندلې. مونږ ځانونه ماړه کړل او پاتې پنير مو راواخيستل.
د "اوداين" ته لس کلوميټرلار پاتې وه چې موټر مو په خټه کې بند شو.
اوس باران نه وريدو او درې ځلې الوتکې زمونږ د سر د پاسه تيرې شوې او ليرې د لوی سړک په لور مو لوړې ليدل چې د دوي په بمباريو راپورته کيدل. مونږ د خټو نه د ګاډي د ايستلو تابيا کوله چې ومی ليدل دواړه انجنيران پلي يو خوا روان و. ما ورپسې منډه کړه چې راايسار يې کړم او ګاډي ټېله کولو لپاره مې ورته وويل. دوي اوړې وغورځولې چې ته خو زمونږ مشر نه يې او اشاره يې وکړه چې مونږ دی هم خپل ګاډي پرېږدو اوپه پښو روان شو ځکه الوتکې به راباندې بمونه وروي.
دوي ګړندي شول نو ما ورته په چيغه وويل چې ودرېږئ خو د دوي ګامونه لا چټک شول. ما بيا چيغه کړه نو دوي منډه واخسته. ما د پيټۍ نه خپله طفنچه را وويسته او ډز مې پری وکړو. زما نښه خطا ولاړه او وومې ليدل چې دوي ځغستل. ما دری ډزې نوری وکړې نو يو پکی راپرېوتو. بل د سړک خوا ته په بوټو کی له سترګو پناه شو.
بونيلو ډريور زما خوا ته راغې او وې ويل، طماچه راکړه ،ما هم دغسې وکړل. ده منډه کړه او لومړی پوځي چې په خټو کی پروت و، له نږدې يې پری ډز وکړ او وې وژلو. موټر په ټېلو او ديکو هم له خټو رابهرنشو، نو يو پړې مو ورسره وتړلو اوپه سړک ولاړ بل موټرپه زور مو راښکلو.
هغه لا نور په خټو کی وردننه شو. اخر مې فيصله وکړه چې هغه ګاډې به په خټو کی پرېږدو. له دی مو ټول سامان نورو دوو کی کېښودو او روان شو. لږ وړاندې مو دواړه ګاډي په ميدان کی ځغلول خو په پايله کی دا هم په خټو کی ونښتل او مونږ د "اوداين" ښارلوري ته پلي روان شو چې اوس زمونږ سترګو په وړاندی و.
د ښار سره نږدې يو سيند و چې ورباندی د اوسپنې پل په منځ کی په بمبارۍ سورې شوی و. په سيند کی اوبو شړ وهلو او مونږ د پوری وتلو لپاره بله لاره نه لرله. اخر مې ټولو ته وويل چې يو يو به له پله تيرېږو. زه وړاندی ولاړم او د پله سر ته وختلم نو د سيند لوري ته مې وکتل.
ليرې يو بل د تيرو لوې پل جوړ و او هم هغه وخت مې پرې يو موټروليدو چې پکی ناستو کسانو د جرمني پوځ د افسرانو خولۍ په سر کړې وې. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو ملګرو ته اشاره وکړه او په منډه د پله بلې غاړې ته د يو ټيټ ديوال شا ته کښېناستم.
دوي چې راغلل نو ورته مې د جرمني د ګاډي خبر ورکړو. ټول هيښ شول او يو بل ته يې کتل. شيبه وروسته په بايسکل سپاره د جرمني د پوځ يو ډلګۍ مو وليده چې د سيند په بله غاړه په هغه بل پله تيره شوه. ما وويل، دا ډېره عجيبه خبره ده چې د دوي د مخ نيوي لپاره دلته هيڅوک نه و. د سيند سره سره د اورګاډي پاټلۍ تيره وه او مونږ ورو ورو په هغې روان شو. اوس مو د ښار ودانۍ او کليسا ليدې شول. ناڅاپه ډزې وشوې او يو تن مو راپرېوتو، مونږ ټولو ځانونه پر زمکه واچول او ښه شيبه وروسته چې د خطر امکان لږ شو نو د خپل ملګري د پټۍ تابيا مو وکړه خو دې مړ و. ما د ده له جيبه کاغذونه راوويستل چې وروسته کورنۍ ته يې ورواستوم. په مونږ د ښار له خوا ډزې شوې وې چې د اطالويانو سره و. اوس زمونږ ژوند له خپلو خلکو نه په خطر کې و.

مونږ د پله سره سره بلې غاړې ته ولاړو چې تر شپې يو ځاې پټ شو. هغې غاړې ته ډېرې ونې وې چې مونږ ترې په پټه تير شو. د ميدان بلى غاړې کې يو کلي وال کور و او نورو ته مې وويل چې يو يو به ورته ورځو. زه وړاندې ولاړم او د کور پرانستې دروازې نه وردننه شوم. دوه ملګري راپسې و او پخلنځي کې د ايرو د پاسه تش ديګ پروت و. هلته د خواړو څه نه و.
يو تن وويل، مونږ په دې کور کې نشو ايساريدې او بايد په غوجله کې پټ شو. د پخلنځي سره جوخت د تيرو جوړې پونۍ ښکته تللې وې. زه ورښکته شوم نو په غوجله کې يو څاروې هم نه و. يوى خوا ته بوساړه او ورسره دوه کړکۍ وې چې د خطر پر وخت ترې تښتيدې شو. مونږ درې واړه په پروړ پريوتو او خبرى موکولې چې په دى ښارکى څنګه به ژوندي پاتې کېږو.
د ښار شمالي برخې نه د مشين ګن د ډزو غږ راتلو خو بمبارۍ نه وې. د شپې مونږ له هغې غوجلې نه ووتلو او د ښار منځ ته ولاړو. هلته هرى خوا ته د خلکو ګڼه وه. يو چا وويل، جنګ پاې ته رسيدلې دې او ټول خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورونو ته روان دي. مونږ لا په پورا حال پوهه نه و چې جرمن پوځ ونیولو او د نورو بندیانو سره یې ودرولو. یو ډګر من یې د سیند لوري ته بوتلو او د ډزو په اواز پوهه شوم چې دی به یې وژلې وي. د نورو بندیانو یوه ډله یې راوستله نو زمونږ د نیونکو پام هغوي ته شو. ما تری منډه کړه او په سیند کی مې ورټوپ کړل. څو کسانو راپسی ډزې وکړې او زه تر هغې چې ساه مې بندولې شوه په اوبو کی ووم.
یو وارې مې سرراپهر کړو چې ساه واخلم او بیا د اوبو په بهیر کی مې ځان پریښودو. کله چې پوهه شوم، له هغې ښار لیرې راوتلې وم نو یوځاې مې زمکې ته ځان نږدې کړو او بهر راووتلم. زما جیب کی پیسې لمدې وې خو کار یې ورکولې شو. زه د شمال نه جنوب ته روان شوم او اخر د "ټریسټ" ښار په لوري تلونکې د اورګادي پاټلۍ مى وموندله. د یو پله سره نږدې د ګاډي په انتظار شوم او کله چې د مال ډبې راته مخ ته تیرېدې نو په لوی بمپر وروختلم. د ګاډي د پاسه محافظ ولاړ و خو مخامخ یې کتل. ما د ډبي (خونې) د پاسه د ترپال مزې پریکړو او ځان مى وردننه کړو.
ګاډې سهار وختي چې میلان ته ورسیدو نو ما د تمځاې نه وړاندې ترې ټوپ کړ او ځان مې یوکافی ته ورسوو. هلته مې څه وخوړل او بیا روغتون ته ولاړم. منیجر سیم مى ولیدو او خبر شوم چې کاترین دوه ورځې وړاندې د خپلې ملګرې سره د "سټریسا" ښار ته تللې وه چې د سویس پلې ته نږدې و. ده راته خپلې جامې راکړې او لاری ګودرې یې راوښودلې. د سټریسا ټکټ مى واخستو او په اورګاډي کی کښېناستم. یوه ورځپانه راسره وه خو ما د جنګ خبرونه نه غوښتل. سیم راته یو وړوکې بیګ راکړی و چې دوه کمیسونه پکی و. نور د پیسو او پاسپورټ نه علاوه مى څه نه لرل.
خپل منزل ته په رسیدو یو هوټل ته ولاړم، کوټه مې ونیوله او د هوټل میلمه پال نه مې پوښتنه وکړه چې دوه نرسانې خو یې نه وې لیدلې. ده راته وویل، اوس د جنګ له کبله دلته څوک نه راځي او ټول هوټلونه تش پراته دي. خو ده دوه نرسانې لیدلې وې. ما ورته وویل چې په دوي کی یوه زما میرمنه وه. د هوټل د مېخانې یو ملازم راته وویل چې هغه دوه نرسانې د اورګاډي د تمځاې سره نږدې په وړوکي هوټل کی ایسارې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاترین او هیلن فرگیسن په ډوډۍ ناستی وې چې زه د دوي هوټل ته ولاړم. زما په لیدو د کاترین مخ وځلیدو او ما چې ښکل کړه نو سره واوخته. هیلن یو څه هیښ او یو څه په قهر وه.

هیلن. زه ستا په لیدو خوشاله نه یم. زما ملګرې ته دی د زړه مرض لګولې دې. له دی سره دی چل وکړو.

کاترین. (په خندا) هو د سکاټ لینډ خلک ډېر نیک او با اخلاقه وي.

هیلن. زما دا مطلب نه و، د ده دا چل ول مې نه خوښېږي. د اطالویانو پوځي لباس یې اغوستې او دننه لکه امریکاي مار په شان خصلت لري.

کاترین. اوس خو یې پوځي لباس نه دی اغوستې .

هیلن. په دی کی یې هم چل دې، کله پوځي شي او کله ملکي. ټول اوړې یې ستا پوښتنه ونکړه، نه یې ستا لیکونه ځواب کړل او اوس راښکاره شو. اې...ځوانه ، دی جینۍ ته بدنامي مه اړوه، که غواړی یې نو پکار ده چې ژر تر ژره ورسره واده وکړی.

کاترین راپاسیده او وې ویل، ښه ده، واده به هم وکړو خو اوس لږ بهر ووځو،وروسته به درسرهووینم.

کاترین رانه ډېرې پوښتنې وکړی چې زه څنګه د جنګ له ډګر راووتلم. هغه ویرېده چې پولیس به مې ونیسي. خو ما ډاډ ورکړو چې زه د یو ښار نه بل ته د تلو اجازه لرم. دی راته وویل چې مونږ د جهیل نه وراخوا د سویس خاورې ته که ولاړو نو زما د نیولو خطر به نه وي.
دا مې خپل هوټل ته راوسته چې یو بل سره نږدې پاتې شو.
د شپې لس بجې وې چې د هوټل یو ملازم زما د کوټې دروازه وټکوله اوچې زه بهر وتلم نو خبر یې راکړو چې په ښار کی پولیس راپسې ګرځي او ښاي ترسهاره مې ونیسي. ما ترینه د تیښتې لاره وپوښتله نو وې ویل چې دی یوه کشتۍ لري او مونږ کولې شول چې د شپې د جهیل له لاری سویس ته ولاړ شو. ما ورته د کاترین او د سامان وویل نو وې ویل، "که تاسو هر څه تیار کړئ نو زه به یې غم وخورم." زه دننه راغلم او کاترین ته مې وویل چې ژر ځان تیار کړه . بیا مو خپل کالي راټول کړل او دوه بیګونه مې هغه ملازم ته ورکړل چې بهر راته په انتظار و. راته یې وویل چې دې به د نوکرانو د پوړیو نه ښکته شي او مونږ دې لوې دروازې نه بهر ووځو او داسی چلن وکړو لکه چې د چکر لپاره روان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکته ولاړو نو په تالار کی میلمه پال دومره وختي زمونږ په لیدو حیرانه شو. مونږ ورته وویل چې د سیند سره د طوفان ننداری ته روان و. دی ژر ولاړو او یوه لویه چتری یې راوړه. ما ورته لس لیرې نوټ په لاس کیښودو او را بهر شو. مونږ د سړک نه یو باغ ته ورغلو او له هغه ځاې مو جهیل ته مخه کړه. هلته د هوټل ملازم راته ولاړ و او وې ویل چې زمونږ بیگونه یې په کشتۍ کی ایښي و. ما هغه ته پیسې ورکولې نو راته یې وویل، کله چې بلې غاړی ته ورسیدې نو پینځه سوه فرانک راواستوه. بیا د ډوډۍ یوه غوټه یې راکړه او په مخه ښه یې وویل. د شپې یولس بجې وې او که مونږ ټوله شپه کشتۍ چلولی نو سهار اوو بجې به خپل منزل ته رسیدو. باران وریدو او مونږ سره قطب نما هم نه و خو ملازم راته د لاری نښې راښودلی وې.

ما د هوا په لوري په تیاره کی کشتۍ چلوله او په لاره کی د نورو ښارونو رڼا گانې مو لیدې شول خو په لړه کی نه پوهیدم چې کومو ځایونو نه تیر شو. کله چې زه د چپوانو په وهلو ستړی شوم نو کاترین ته مې ورکړل او په کشتۍ کې سملاستم. زما لاسونه پولۍ شوي او شیمه راکی نه وه. سهاروختي د سویس اوبو ته ورسیدو نوکشتۍ مو له نورو سره په تم ځاې کی ایساره کړه. یو کلي کی مو ناشته وکړه او په گمرک د پاسپورټ د ښودلو وروسته مونتریخ ښار ته ولاړو.

کاترین اوس زما میرمنه وه او مونږ د کراې په یو وړوکي کورکی نوې ژوند پیل کړ. هلته مو هیڅوک نه پیژندل خو د ښار خلک را باندی مهربانه و. کاترین راباندی د ماشوم زیږې وکړو نو ما په امریکه کی خپله کورنۍ خبره کړې وه. مونږ پلان جوړ کړو چې د ماشوم له زیږیدو وروسته به یې هلته وړو.

کاترین د ماشوم لپاره چې څه پکار و، هغه یې له بازار واخستل. زه په لوې پلورنځي کی جوړجمنازیم ته ولاړم چې هلته د سوک وهلو تمرین وکړم. نور کله به زه هلته سهار چې کاترین به لا ویده وه، تللم. په کومو ورځو چې د سپرلې په شان هوا ماته شوه نو سوک وهلو به خوند راکوو. وروسته به می ولامبل او ورور ورو به په لاره راتلم. کله یو کافي مخ ته به ودریدم، یا به پکی کښېناستم او د خلکو ننداره به مې کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرسمس نه درې ورځې وړاندې واورې وشوې. یو سهار مونږ راویښ شو نو هر څه سپین و. مونږ په کټ کی ناست و، په بخاري کی اور بلیدو او بهر مو د واورې ننداره کوله. کاترین وویل، کاشکه زما په واورو د خویدو لوبه زده وې.
سپرلې راغې او یوه شپه زه راویښ شوم نو کاترین ناارامه وه. هغې د درد احساس کوو، نوما نږدې گراج نه ورته ټیکسي راوغوښته او دا مې روغتون ته بوتله. هلته د دی نوم او نور معلومات یې په یو رجسټر کی ولیکل او یوی کوټې ته یې وروستلو. کاترین یې په کټ سملوله او یوه نرسه ورته ودریده. د سهار رڼا خپره شوه نو کاترین راته وویل چې ورشه، څه وخوره او بیا راشه. نرسی راته وویل، بهر د روغتون مخ ته یوه کافی وه.
زه ښکته ولاړم او په کافی کی کښیناستم. هلته یو بوډا سړي راته د کافي پیاله کېښوده او پوښتنه یې وکړه چې دومره سهار وختي مې څنګه پیښه وکړه. ورته مې وویل، زما د میرمنې اولاد کیدونکي دې، هغې سره راغلې وم. ده راته دعا وکړه او د خواړو شیان یې راوړل. له نارۍ وروسته زه بیا روغتون ته ولاړم او د کاترین کوټې دروازه مې وټکوله. هلته هیچا ځواب رانکړو نو زه وردننه شوم. کټ تش و او د کاترین شیان پکی پراته و. په یو میز د هغې د ویښتو برش او د کټ سره یې چپلکې ښکاریدې.
ما چرت وهلو چې څه وکړم خو په دی کی نرسه راغله او زه یې یوی بلې خونې ته بوتلم. له دروازې مې ولیدل چې کاترین پریو میز پرته وه او په مخ یې د اکسیجن نقاب و. ډاکټر هم ولاړ و، نرسې راته چپنه ونیوله چې ژر مې واغوسته او وردننه شوم. کاترین نقاب لیری کړو او په کمزوري غږ یې ډاډ راکړو چې هر څه به سم شي. تر ماسپښین زه هلته وم، بیا د کاترین په وېنا هم هغه کافي ته د ډوډۍ لپاره ولاړم. چې بیرته راغلم نو ډاکټر راته وویل چې ماشوم به په عملیاتو راوباسي.
ماښام عملیات وشول خوماشوم مړ و اوکاترین هم ښه نه وه. دا یې بیرته خپلې کوټې ته یوړه او زه بهر په یو بنچ کښیناستم. ډېر وخت تیر شو نو یوه نرسه راغله او راته یې وویل، ورشه میرمنې سره دې ووینه. زه چې د هغې کټ ته ولاړم نو د کاترین رنگ لکه د څادر سپین و .
زما په لیدو یې په کمزوري غږ راسره خبری وکړی او ډاډ یې راکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا به ښه شي.  زما په سترګو کی د اوښکو په لیدو دی وویل، چې ته راسره یې نو زه له مرګه نه ویریږم.  ما د دی لاس ونیولو او ورته مې وویل، داسی خبری مه کوه.  ته به ښه شې. دا وموسیده او وې ویل، زه مرمه، خو لوز وکړه چې ډېر به راپسې نه ژاړې؟ د دی په سترګو کی هم هغه مینه وه چې ما په لومړي ورځ د دی په لیدو احساس کړی وه.  زه په منډه ډاکټر پسې ولاړم خو چې بیرته راغلم نو کاترین په ابدي خوب ویده وه.  زه له روغتون بهر راغلم او په باران کی یوې خوا ته روان شوم.
پاې

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**